# افغانستان

## وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو خوندیتوب

ځانګړی راپور: د ۲۰۱۸ کال په ټاکنو کې تاوتریخوالی



UNAMA

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت**

نومبر ۲۰۱۸
کابل، افغانستان

## عمومي کتنه

د افغانستان د ولسي جرګې ټاکنې تر اوږده انتظار وروسته د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۰، ۲۱ او ۲۷ ترسره شوې،[۱] د انتخاباتي مرکزونو د خوندي کولو لپاره د افغان دولت هڅو تر څلورو ميليونو زيات افغانان د دې جوګه کړل، څو په خوندي ډول خپلې رايې وکاروي. په داسې حال کې چې زيات شمير وګړو د رايې ورکولو خپل حق له تاوتريخوالي سره د مخ کيدو په حالت کې کارولی، چې د رايې اچونې پر لومړۍ ورځ له کوم وخت راهيسې چې يوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سيستماتيک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پيل کړي، د ټاکنو د بلې هرې ورځ په پرتله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمير ليدل شوی. سربيره پر دې، هغو وګړو چې خپله رايه يې کارولې، د ټاکنو له ترسره کيدو په مخکينيو اونيو او مياشتو کې د طالبانو له خوا د رايه اچوونکو او د ټاکنو د کارمندانو په وړاندې د تښتونو، ګواښونو، تهديدونو او ځورونو د يوه سازماندهي شوي کمپاين په ننګولو سره دغه چاره ترسره کړې.

تر ټاکنو يوازې دوه ورځې مخکې د طالبانو له خوا په کندهار کې د امنيې قوماندان په ګډون د کليدي امنيتي چارواکو وژنې، د نا امنۍ په اړه انديښنې لا پسې زياتې کړې. تر ټاکنو مخکې، د رايه اچوونکو د ثبت او انتخاباتي کمپاينونو په مودو کې تاوتريخوالي او د طالبانو له خوا اخطارونو، چې خلک يې ګواښل څو په ټاکنو کې ګډون و نه کړي او که چا وکړ نو سزا به ووينې، د هيواد په زياترو برخو کې ويره زياته کړه، چې په بالقوه ډول يې زيات شمير خلک د سياسي ګډون حق له کارولو څخه را وګرځول.

دغه ځانګړی راپور چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) له خوا چمتو شوی، د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي چې د دغو پارلماني ټاکنو پر ترڅ کې او يا تر هغو مخکې تر سره شوي او دغه راز د بشري حقونو د هغو موضوعګانو په اړه چې سياسي ګډون متاثر کوي د څارنې موندنې وړاندې کوي.[۲]

په داسې حال کې چې راپور پر هغو ورځو تمرکز کوي، په کومو کې چې ټاکنې ترسره شوي، دغه راز د انتخاباتي کمپاينونو او رايه اچوونکو د ثبت د مودو په ګډون د ټاکنو له ورځو څخه مخکې د بشري حقونو د وضعيت په اړه عمومي معلومات وړاندې کوي او بايد د ټاکنو اړوند بريدونو په اړه د يوناما د پخواني ځانګړي راپور سره يو ځای ولوستل شي، کوم چې د روان کال په مۍ کې خپور شوی.[۳] دغه راپور د دولت ضد عناصرو له خوا د هغو اشخاصو په وړاندې چې په انتخاباتي پروسه کې ګډون کوي په عمدي بريدونو تمرکز کوي. يوناما د دغه راپور موندنې د دې لپاره وړاندې کوي، چې د ملکي وګړو د ساتنې انديښنې په ډاګه او د هغو فکتورونو په پراخ درک کې مرسته وکړي، کوم چې په سياسي ګډون کې د افغان وګړو د خپل حق د کارولو په وړاندې خنډ شوي.

د يوناما موندنې په ډاګه کوي، هغه تاوتريخوالی چې د ولسي جرګې د ټاکنو د دريو ورځو پر مهال يې رايه اچوونکي او د رايه اچونې مرکزونه په نښه کړي، د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي په۱۰۸ تاييد شويو پيښو کې د ۴۳۵ ملکي تلفاتو (۵۶ مړه او ۳۷۹

---

[۱] د ولسي جرګې لپاره رايه اچونه چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۰ پلان شوې وه، په ځينو مرکزونو کې د اکتوبر ۲۱ ته وغځيده، او په کندهار ولايت کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون تر پريکړې وروسته د ولسي جرګې ټاکنې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر ۲۷ ته وځنډيدلې.

[۲] يوناما دغه راز د ټاکنو په ورځو کې د نوماندانو او په هغوي پورې د اړوندو وسله والو ډلو له خوا د تاوتريخوالي/زور زياتي راپورونه ترلاسه کړي. دغه راپور له دغه ډول تورونو سره سرو کار نه لري څرنګه چې هغه د يوناما د ملکي وګړو د ساتنې د څارنې د هغه کار له ساحې څخه بهر دی، کوم چې پر هغه تاوتريخوالي تمرکز کوي کوم چې د جګړې د ښکيلو خواوو له خوا ترسره شوی وي. د صلاحيت/واک برخه وګورئ.

[۳] د يوناما راپور وګورئ، په وسله واله جګړه د ملکي وګړو ساتنه: د رايه اچوونکي د ثبت په لومړنۍ موده کې (۱۰ مۍ ۲۰۱۸) ټاکنو اړوند بريدونه او سرغړونې، پر دغې انټرنيټ پاڼې د لاس رسي وړ دی:.https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

ټپیان) لامل شوی، چې په افغانستان کې د څلورو مخکنیو ترسره شویو ټاکنو په پرتله د ملکي زیان تر ټولو لوړه کچه په ډاګه کوي.[٤] یوناما دمګړۍ د ګڼ شمیر د باور وړ تورونه ارزوي کوم چې تر د زیات شمیر تلفاتو او شتمنۍ د زیان لامل شوي. د مرګ ژوبلې او زیان سربیره، د بریدونو، ګواښونو او تهدیدونو دغه جریان همدارنګه افغان وګړي په آزاد ډول او له ویرې پرته په سیاسي پروسه کې د ګډون له حق څخه بې برخې کړي.

دغه راپور د دولت ضد عناصرو په ځانګړي ډول د طالبانو له خوا د ټاکنو پرمهال د هغو ښوونځیو په وړاندې د بریدونو په ګډون چې د رایې اچونې د مرکزونو په څیر کارول شوي، د ملکي شیانو او ملکي میشتو سیمو په وړاندې د یو شمیر بریدونو د تنظیم شوی کمپاین په اړه جدي اندیښنې مستند کوي. د طالبانو په زیاترو بریدونو کې د راکیټونو، لاسي بمونو، هاوانونو او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په څیر د غیر مستقیمو وسلو سیستمونو او سپکو وسلو کارول شامل وو چې ټول یې بې توپیره اغیز لرونکي دي.

راپور همدارنګه تر ټاکنو وړاندې د طالبانو له خوا د ولسي وګړو په وړاندې د تښتونو، ګواښونو، تهدیدونو او ځورونو ترسره شوې ناراموونکې نمونه په ډاګه کوي. دغه پېښې، په کومو کې چې د هغو تاکتیکونو کارونه شامل وه چې د ملکي میشتو سیمو په وړاندې ترسره شوي، د طالبانو د مختلفو کمیسیونونو له خوا د یو لړ عمومي اعلامیو سره یو ځای ترسره شوي، چې په څرګنده د ټاکنو ګډونوال او هغه موقعیتونه ګواښي چې د ټاکنو د مرکزونو په څیر ټاکل شوي، او د یوه عمدي کمپاین ښکارندوي دي، چې د طالبانو له خوا د ټاکنیزې پروسې د ګډوډولو او ناکامولو لپاره ترسره شوي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د معلوماتو سره سم، له کابو ۸،۸ میلیونه افغانانو چې د رایه اچونې لپاره یې ځانونه ثبت کړي وو، نږدې ۴،۲ میلیونو یې د ټاکنو پر ورځو خپلې رایې کارولې.[٥] که څه هم زیات شمیر افغانانو رایه اچولې، خو ګڼ شمیر وګړو نه غوښتل یا و نه توانیدل خپله رایه وکاروي. په ځینو قضیو کې د عملیاتي او اداري ستونزو په ګډون زیات شمیر فکتورونه د رایې اچونې مرکزونو د تړل کیدو یا ناوخته پرانستل کیدو لامل شول، چې له شک پرته یې د هغو اشخاصو پر شمیر هم اغیز کړی چا چې خپله رایه کارولې. د ټاکنو له ترسره کیدو په مخکنیو میاشتو کې د ټاکنو په اړوند تاوتریخوالي کې د سلګونو ولسي مرګ ژوبلې په پایله کې رامنځ ته شوې ویره، چې د طالبانو خوا په ټاکنیزه پروسه کې د ګډون د مخنیوي په موخه د ګواښونو، تهدیدونو او ځورونې د تنظیم شوي کمپاین سره مله وه، دغه راز د دې لامل شوه چې زیات شمیر افغان وګړي د ټاکنو په ورځو کې په خپلو کورونو کې پاتې شي.

راپور پر دې ټینګار کوي، چې د ملکي وګړو او ملکي شیانو – د انتخاباتي مرکزونو په ګډون- په وړاندې د تاوتریخوالي عمدي کړنې او دغه راز بې توپیره بریدونه د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې په جدي ډول منع دي او جنګي جرمونه تشکیلوي. د افغانستان د ملکي وګړو په وړاندې په پراخه کچه یا سیستماتیک بریدونه همدارنګه ښایي د بشریت په وړاندې جرمونه تشکیل کړي. سربیره پر دې، د ملکي وګړو ترمنځ د ویرې د خپرولو په موخه تاوتریخوالي کړنې یا ګواښونه د بشرپالنې تر نړیوال قانون

---

[٤] په تیرو ټاکنو کې د رایه اچوونې پر ورځ (۱۴ جون ۲۰۱۴) یوناما د بریدونو په ۸۶ تایید شویو پیښو کې چې ټاکنې یې په نښه کړې وې ۲۵۱ ملکي تلفات (۵۲ مړه او ۱۹۹ ټپیان) تایید کړي. پخوا دا تر ټولو لوړ ملکي تلفات وو، چې د یوناما له خوا په افغانستان کې د ټاکنو پر ورځ مستند شوي وو.

[٥] د ۲۰۱۸ د نومبر پر ۳ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ویاند اعلان کړه چې په ټاکنو کې د رایه اچوونکو د ګډون عمومي شمیر نږدې ۴،۲ میلیونه و. په لاندنۍ انټرنیټ پاڼه دغه اعلامیه د لاس رسي وړ ده: https://www.facebook.com/IECAfghanistanOfficial/posts/۲۰۴۴۸۳۸۰۶۸۸۷۲۳۴۹.

لاندې منع دي. راپور یو ځل بیا د دې یادونه کوي، چې په افغانستان کې ټاکنیزه پروسه یو ملکي پروسه ده او په ټاکنو کې د ټولو وګړو د ګډون حق د بشري حقونو یو بنسټیز حق ګڼل کیږي، چې د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې تضمین شوی.

یوناما د دولت او امنیتي ځواکونو له خوا د هغو بې شمیره اقداماتو قدرداني کوي، چې د افغان وګړو د هغه حق د رعایت کولو لپاره یې ترسره کړی، څو وکولای شي په ټاکنو کې ګډون وکړي او له زیان څخه یې وژغوري، او د دې یادونه کوي چې هغه ملکي تلفات چې په دغه راپور کې مستند شوي په دې د افغان ملي پولیسو ۲۵ افسرانو تلفات هم رانغاړي، څوک چې د انتخاباتي مرکزونو د ساتنې یا د انتخاباتي توکو د لیږدونې پرمهال وژل شوي او یا ټپي شوي دي.

صلاحیت/واک

دغه راپور د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پریکړه لیک لاندې د یوناما له ماموریت سره سم خپور شوي، چې "د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، هڅې سره همغږې کړي، څو د هغوي ساتنه یقیني کړي، [...] احتساب ته وده ورکړي او د اساسي ازادي ګانو او د افغان اساسي قانون او نورو هغو نړیوالو تړونونو چې افغانستان یې غړیتوب لري د احکامو په بشپړ تطبیق کې مرسته وکړي."

یوناما پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې د اغیز د راکمولو لپاره یو شمیر فعالیتونه ترسره کوي، لکه د ملکیانو د مرګ ژوبلې د اندېښنې لرونکو پېښو څپلواکه او بې طرفه څارنه او د حقیقت موندنې ترسره کول، د جګړې له ټولو ښکیلو خواوو سره مدافعه او د داسې نوښتونو رامنځ ته کول چې د بشرپالنې او بشري حقونو نړیوالو قوانینو او دغه راز د افغانستان اساسي قانون او نورو داخلي قوانینو ته پابند پاتې کیدل تقویه کړي.

میتودولوژي

دغه راپور د هغو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوي کوم چې د یوناما د بشري حقونو څانګې له خوا د هغې میتودولوژۍ د لارښوونې له مخې راغونډ شوي چې د ټاکنو په زمینه کې د بشري حقونو د څارنې په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا رامنځ ته شوې.[6] یوناما له پراخو سرچینو لکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د هغه اړوند ولایتي دفترونو؛ د ولسوالیو، ولایتونو او په ملي کچه دولت او امنیتي ځواکونو؛ دغه راز د ټولنې مشرانو، د مدني ټولنې فعالینو، ژورنالستانو، روغتونونو او روغتیایي مرکزونو، د پیښو شاهدانو، قربانیانو او نورو څخه معلومات راغونډ کړی. یوناما د افغان دولت او دغه راز د طالبانو بیانیې، د پرانستو او تړل شویو انتخاباتي مرکزونو د لیستونو په ګډون مستند معلومات، خبري راپورونه او د ټولنیزو رسنیو معلومات کتلي. یوناما دغه راز د ملګرو ملتونو له نورو ادارو څخه هم معلومات ترلاسه کړي.

په دغه راپور کې د اکتوبر په ۲۰ او ۲۱ د ټاکنو د ورځو په ترڅ کې د رامنځ ته شویو پیښو په تړاو د ملکي تلفاتو وړاندې شوي ارقام ، هغه ادعاوې په ډاګه کوي، چې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی ښکاروندي کوي او د یوناما له خوا د لومړنیو ترسره شویو حقیقت موندنو له مخې معتبرې ګڼل شوي، او باید یوازې د لومړنیو معلوماتو په حیث وګڼل شي. د ملکي تلفاتو وروستي

[6] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر، د بشري حقونو د څارنې په اړه لارښود، ۲۳ فصل: د ټاکنو په ممهال د بشري حقونو څارل، چې پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://www.ohchr.org/Documents/Publications/Chapter۲۳-MHRM.pdf.

ارقام، کوم چې لږ تر لږه د دری دولو خپلواکو سرچینو تصدیق ته اړتیا لري، دا به د یوناما د ۲۰۱۸ کال په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په کلني راپور کې خپاره شي.[۷]

مخینه

د اپریل پر ۱۴ د رایه اچوونکو د ثبت مودې له پیل راهیسې، د انتخاباتي کمپاینونو او د چوپتیا د دوه ورځنۍ مودې[۸] په اوږدو کې چې د اکتوبر پر ۱۹ پای ته رسیده، له ټاکنو یوه ورځ مخکې، یوناما د ټاکنو اړوند ۱۵۲ امنیتي پیښې تایید کړي چې د ۴۹۶ ملکي تلفاتو (۱۵۶ مړه او ۳۴۰ ټپیان) او د ۲۴۵ ملکیانو د تښتونو لامل شوي. ښځې او ماشومان د دغو ملکي تلفاتو ۳۵ سلنه جوړوي. د ۲۰۱۸ د اپریل پر ۲۲ په کابل او د مئ پر ۶ په خوست کې دوو مرګونو بریدونو ۲۵۰ ځخه زیات ملکي تلفات اړولي. د یوناما له خوا د ټولو تصدیق شویو ملکي تلفاتو ترمنځ، د اتو نوماندانو د وژنې په ګډون، د ۸۷ ملکي تلفاتو (۳۸ مړه، ۴۹ ټپیان) یې د ولسي جرګې لپاره د نوماندانو په وړاندې د بریدونو له امله رامنځ ته شوي.

د هغو نا ارامونکو جریانونو په خیر چې د ۲۰۱۴ کال د تیرو ولسمشریزو ټاکنو پر مهال لیدل شوي، یوناما د طالبانو له خوا داسې راپورونه تایید کړي چې هیوادوالو ته اخطار ورکوي څو ټاکنو کې د ګډون لپاره ځانونه ثبت نه کړي، هغه خلک به جریمه کړي او یا به یې تذکره مصادره کړي چا چې ځانونه ثبت کړي وي او د ټاکنو کارمندان یې د مرګ په ګډون د سزا په ورکولو ګواښلي که چیرې خپل کار ته دوام ورکړي. همدارنګه ښوونکو ته د ګواښونو له امله یو شمیر ښوونځي تړلي وو چاته چې د دې ګواښ شوي و چې د هغو ي ښونځي به په نښه شي که چېرې د رای اچوونکي د ثبت په موخه وکارول شي.

طالبانو د یو لړ عمومي اعلامیو له لارې چې د ټاکنو له ورځې څو اوونۍ مخکې خپرې شوې وې د ټاکنو د ګډوډولو هوډ څرګند کړي و. د اکتوبر پر ۸، د جهاد غږ پر ویب پاڼې د یوې عمومې اعلامیې له لارې طالبانو " خپلو مجاهدینو ته لارښوونه کړې وه چې د سختو خنډونو د رامنځ ته کولو له لارې په ټول هېواد کې د دغې پروسې چې د امریکا له خوا یې رهبري کېږي، مخه ډپ کړي" او په ډاګه کړې یې ده چې "هغه وګړي چې د امنیت د برابرولو له لارې د دغې پروسې [ټاکنو] د بریا هڅه کوي، باید په نښه شي".[۹] د یادونې وړ ده چې دغې بیانیې د طالبانو غړو ته لارښوونه کړې چې "د افغانانو ژوند او ملکیتونو ته جدي او بشپړ پام وکړي". خو بیا هم د اکتوبر له ۱۷ تر ۱۹ د دریو پر له پسې ورځو په اوږدو کې د طالبانو د دریو مختلفو کمیسیونونو له خوا د خپرو شویو یو لړ اعلامیو په لهجه کې بدلون تر سترګو کېده چې د طالبانو د هغه هوډ په اړه چې ملکي وګړي به په نښه کړي، جدي اندېښنې راولاړولې.

د اکتوبر پر ۱۹، د طالبانو نظامي کمیسیون د طالبانو هغه هوډ په ډاګه کړ چې ټول ستر او کوچني سړکونه به وتړي او افغانانو ته یې د هرې نقلیې وسیلې د کارولو په اړه اخطار ورکړ، او په ډاګه یې کړه چې هغوی "نه غواړي عامو افغانانو ته زیان ورسوي".[۱۰] په ناراموونکي ډول، بیانیه د دې یادونه کوي، چې د طالبانو "استخباراتي ډلې" به "له نږدې ټول پرمختګونه

[۷] تمه کیږي چې د ۲۰۱۹ په فبروري کې به خپور شي.

[۸] د ټاکنو له ورځې مخکې د اکتوبر پر ۲۰ هغې دوه ورځنۍ مودې ته راجع کیږي، د کومو په اوږدو کې چې سیاسي نوماندان د کمپاین کولو اجازه نه لري.

[۹] جهاد غږ، "د راتلونکو تش په نامه ټاکنو په اړه د اسلامي امارت بیانیه" (۸ اکتوبر ۲۰۱۸)، چې پر دغه انترنت پاڼه د لاسرسي وړ ده: http://www.alemarah-english.org/?p=۳۵٦۸۹ په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۹ کتل شوي.

[۱۰] جهاد غږ، "د راتلونکو تش په نامه پارلماني ټاکنو په اړه د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون اعلامیه" (۱۹ اکتوبر ۲۰۱۸) چې پر دغه انترنت پاڼه د لاسرسي وړه ده: http://www.alemarah-english.org/?p=۳٦۲٦۳ په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۴ کتل شوي.

ښاري" ، په دې اړه انديښنې را ولاړې کړې چې طالبان ښايي تر ټاکنو وروسته د رايه اچوونکو په ضد اقدامات ترسره کړي. د اکتوبر پر ۲۰ او ۲۱، طالبانو د ټويټر او خپلو انټرنټ پاڼو له لارې په سلګونو عامه بيانيې خپرې کړي، چې په مکرر ډول يې د هغو بريدونو مسئوليت پر غاړه اخيسته چې په هيواد کې يې مشخص انتخاباتي مرکزونه په نښه کړي وو.

**د ټاکنو اړوند تاوتريخوالی**

**ملکي تلفات**

د انتخاباتي مرکزونو تر پرانستلو څو شيبې مخکې، طالبانو د ټويټر له لارې په ډاګه کړه، چې په هيواد کې ټول انتخاباتي مرکزونه به تر بريد لاندې وي او يو ځل بيا يې خلکو ته خبرداري ورکړ چې د ټاکنو په پروسه کې ګډون و نه کړي.[11] د انتخاباتي مرکزونو تر پرانستل کيدو وروسته، يوناما د داسې بريدونو په اړه د راپورونو تر لاسه کول پيل کړل، چې انتخاباتي مرکزونه يې په نښه کول او د ورځې په اوږدو کې د بريدونو شدت مخ په زياتيدو و. تر ټولو مرګونی بريد د اکتوبر پر ۲۰ په کابل ښار کې تر غرمې وروسته داسې مهال رامنځ ته شو، کله چې يوه ځانمرګي بريدګر د ښاروالۍ په يو دفتر کې واقع د يوه انتخاباتي مرکز مخ ته خپل چاوديدونکي وسيله وچوله ، چې ۱۳ ملکيان (نهه ملکي سړي او څلور د افغان ملي پوليسو افسران چې ملکي چارې يې تر سره کولې) يې ووژل او ۴۰ نور (۳۴ سړي او شپږ ښځې) يې ټپي کړل. په وژل شويو کې درې د ټاکنو د خپلواک کميسيون کارمندان هم شامل وو. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د دغه بريد مسئوليت پر غاړه واخيست.[12]

يوناما د اکتوبر پر ۲۰ د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي له امله د ماشومانو د ۱۱۷ تلفاتو (۲۱مړه او ۹۶ټپيان)، ۴۸ د ښځو تلفاتو (۲ مړه او ۴۶ټپيان) په ګډون، ټول ۳۸۸ ملکي تلفات (۵۲مړه او ۳۳۶ټپيان) تاييد کړي. په دغو شميرو کې د افغان ملي پوليسو چې د انتخاباتي مرکزونو يا هغو نقليه وسيلو ساتنه کوله چې انتخاباتي توکي يې ليږدول ۲۱ تلفات (اته مړه او ۱۳ ټپيان) او ټاکنو د خپلواک کميسيون د څلورو کارمندانو ټپي کيدنه شامله ده. دا شمير په تيرو هرو ټاکنو کې د مستند شوي شمير په پرتله زياتې دي دی، له کله چې يوناما په ۲۰۰۹ کې په سيستماتيک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پيل کړي. يوناما دغه راز د ټاکنو پر دويمه ورځ (۲۱ اکتوبر) کله چې رايه اچونه دويمې ورځې ته وغځول شوه، د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي په پايله کې ۴۷نور ملکي تلفات ( څلور مړه او ۴۳ ټپيان ) چې له دې جملې د ۱۷ ماشومانو تلفات ( دوه مړه او ۱۵ ټپيان او د درې ښځو د ژوبلې په ګډون ملکي تلفات مستند کړي (د زياتو معلوماتو لپاره لاندې برخه وګورئ: *نورې موضوعګانې چې په سياسي پروسو کې ګډون اغيزمن کوي*). د اکتوبر د ۲۱ په ارقامو کې د افغان ملي پوليسو چې د انتخاباتي مرکزونو ساتنه يې کوله، د دوه مړينې او دوه ټپي کيدنې راپورونه شامل دي.

يوناما دغه ټول ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، له هغو ۱۱ پيښو پرته چې ۵۹ ملکي تلفات (۱۴مړه او ۴۵ ټپيان) رانغاړي، کومې چې يوناما دولت پلوه ځواکونو په ځانګړې د ملي اردو او دولت ضد عناصرو ترمنځ ځمکنيو نښتو ته منسوب کړي خو امنيتي ځواکونو هلته د رايه ورکولو د مرکزونو او نورو ځايونو کې د دولت ضد عناصرو د بريدونو څخه د خونديتوب په موخه موجود وو. يوناما د طالبانو د مسئوليت منلو ۶۳ ادعاوو ته چې د هغوي پر ټويټر پاڼه يا جهاد غږ انټرنټ

---

[11] پر دغې ټويټر پاڼه د لاس رسي وړ ده: ,https://twitter.com/Zabihullah_٤/status/١٠٥٣٤٨٠٢٤٠٦١٢٣٤٣٨٠٨په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۹کتل شوی.

[12] پر دغې ټويټر پاڼه د لاس رسي وړ ده:https://twitter.com/Terror_Monitor/status/١٠٥٥٠٩٨٥٠٥٩٠٢٠٧٥٩٠٦ په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۹کتل شوی.

پاڼه[13] خپرې شوې وې، له هغو پېښو سره سر ورکړی چې د اکتوبر پر ۲۰ او ۲۱ یې ملکي وګړي اغیزمن کړي، کومو چې د لومړنیو موندنو سره سم، د ۱۲۳ملکي تلفات (پنځه مړه او ۱۱۸ټپیان) اړولي.

د انتخاباتي مرکزونو او نورو ملکي میشتو سیمو پر لور توغول شوي غیر مستقیم هاوانونه، لاسي بمونه، او راکټونه د ملکي تلفاتو ۳۸ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې د غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي چې زیاتره یې انتخاباتي مرکزونو ته څیرمه ځای پر ځای شوي وو، چې زیات شمیر یې په ښوونځیو، کلینیکونو او جوماتونو کې موقعیت درلود، د ملکي تلفاتو نږدې ۲۳ سلنه جوړوي. د دې سربیره د ځکمني جګړو په وخت د دولت ضد عناصرو له خوا په ډزو کې ۱۲ سلنه اوښتي ملکي تلفاتو مسؤلیت د دولت وسلواله په غاړه دی. د مثال په ډول، د اکتوبر پر ۲۰ په بغلان ولایت کې د دولت ضد عناصرو له خوا ګڼ شمیر هاوانونه و توغول شول چې د بغلان جدید ولسوالۍ پر مرکز ولګیدل، او له امله یې دوه ملکیان ووژل شول او ۳۱ نور ټپیان شول. تلفات عمدتاً د دریو هاوانونو له امله را منځ ته شول — یو هاوان د یو انتخاباتي مرکز تر شا چې په یو ښوونځي کې موقعیت درلود ولګید، بل یې یو جومات ته څیرمه ولګید چې د انتخاباتي مرکز په څیر کارېده، او دریم یې د ګڼې ګوڼې ډک په یوه بازار کې ولګید. د لغمان ولایت په مهترلام ښار کې دوه ریموټي بمونه چې د یوه ښوونځي په چټ او دروازه کې ځای پر ځای شوي وو چېرې چې یو انتخاباتي مرکز موقعیت درلود، ۱۲ سړي او دوه ماشومان ټپیان کړل. د کندز ولایت په خان آباد ولسوالۍ کې یو هاوان د یو انتخاباتي مرکز مخې ته ولګید او ۱۴ ملکیان یې ټپیان کړل.

یوناما همدارنګه تایید کړی چې طالبانو څلور هغه ملکیان چې د بلخ ولایت په نهر شاهي ولسوالۍ کې د ولسي جرګې د یوه نوماند لپاره د ناظرینو په څیر کار کاوه وروسته تر هغې ووژل کله چې دوي په ناپامۍ سره د طالبانو تر ولکې لاندې سیمې ته ننوتل.

د یادونې ده چې یوناما دغه راز د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په اړه ګڼ شمیر راپورونه تر لاسه کړي کوم چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا کشف او خنثی شوي، کوم چې ښایې د لوړ شمیر ملکي تلفاتو لامل شوي وای.

ګواښونه، تهدیدونه او ځورونې

تر ټاکنو څو ورځې مخکې، یوناما د طالبانو له خوا داسې راپورونه تر لاسه کړې چې د هیواد په یو شمیر ولایتونو کې رای اچوونکو او د ټاکنو کارمندانو ته اخطار ورکوي او افغان وګړي په سزا ورکولو ګواښي که چیرې هغوي په ټاکنیزه پروسه کې ګډون وکړي. د مثال په ډول، د ننګرهار ولایت په مهمندرې ولسوالۍ کې طالبانو ګواښ کړی چې د هغو وګړو ګوتې به پرې کړې پر چا چې ثابته شي چې په ټاکنو کې یې ګډون کړی وي. په یو شمیر سیمو کې لکه د فراه او زابل ولایتونو او دغه راز د میدان وردګو ولایت په ګڼ شمیر ولسوالیو کې خلکو خبر ورکړی چې دغه ډول ګواښونه یې د طالبانو د شبنامو له لارې تر لاسه کړي، په داسې حال کې چې په نورو سیمو لکه د ارزګان ولایت په ګیزاب ولسوالۍ کې طالبانو د راپورونو له مخې ټولنو ته په جوماتونو کې د لوډسپیکرنو له لارې خبرداری ورکړې چې رایه و نه کاروي، که نه نو، له ناوړو پایلو سره به مخ شي. د اکتوبر تر ۲۰ او ۲۱، یوناما د وردګو، پروان، نیمروز، او زابل ولایتونو په ګډون، په ګڼ شمیر موقعیتونو کې د وسله والو له خوا د سړکونو د بندولو، او همدارنګه د فیزیکي موانعو په اړه ګڼ شمیر بې تناقضه راپورونه تر لاسه کړي چې انتخاباتي مرکزونو ته د رای ورکوونکو د لاسرسي د مخنیوي هوډ او دغه راز د انتخاباتي توکو په رسولو کې د ځنډ رامنځ ته کولو ممکنه هڅه په

---

[13] هغه پیغامونه چې د اکتوبر پر ۲۰ او ۲۱ د طالبانو د ویاند د ټویټر پر رسمي حساب پاڼه خپاره شوي (https://twitter.com/Zabihullah_٤) او بیانیې چې د طالبانو د جهاد غږ پر انترنټ پاڼه خپرې شوې، رانغاړي (http://www.alemarah-english.org) دواړه په وروستي ځل د ۲۰۱۸ د اکتوبر پر ۲۱ کتل شوي.

ډاګه کوي. په زابل ولایت کې د راپورونو له مخې، هغو کسانو چې د بیړنیو دلایلو له امله یې سفر ته اړتیا درلوده، اړ وو چې د تیریدو لپاره طالبانو ته خپلې تذکرې وسپاري. د بلخ ولایت په چمتال ولسوالۍ کې، د وسله والو یوې ډلې ۶۰ نارینه رای ورکوونکي ودرول او هغوي یې له رای اچونې څخه منع کړل. د راپورونو له مخې، دغه وسله وال څرنګه چې د رای ورکوونکو له خوا طالبان پیژندل شوي، هغوي تلاشي کړي، او تذکرې یې ورڅخه راغونډې کړې او هغوي ته یې خپلو کلیو ته د ګرځیدو امر کړی.

د شفاهي ګواښونو سربیره، یوناما داسې بیلګې مستندې کړې چېرې چې دولت ضد عناصرو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو، هاوانونو، راکټونو او سپکو وسلو د کارونې له لارې انتخاباتي مرکزونو ته د رای اچوونکو او د ټاکنو کارمندانو د حاضریدو د مخنیوي هڅه کړې. د هغو بریدونو سربیره چې ملکي تلفات یې اړولي، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د بریدونو لږ تر لږه ۹۸ داسې پیښې مستندې کړې چې د انتخاباتي مرکزونو د تړل کېدو یا د هغو د پرانستلو د مخنیوي، یا د رای اچولو د جدي ګډوډۍ لامل شوي. له دغو ۹۸ پیښو څخه ۸۹ یې پر انتخاباتي مرکزونو مستقیم بریدونه وو. دغې پېښې ښایي په کافي ډول نه وې راپور شوې؛ یوناما تمه کوي چې د دغه دول پیښو له امله د مرکزونو د تایید شوي تړل کیدو د مواردو شمیر تر هغه وخته پورې چې یوناما د راتلونکو اوونیو په ترڅ کې د ټولو پیښو تاییدونه بشپړوي، لا هم لوړ شي.

د راپورونو له مخې، د هلمند ولایت په میوند ولسوالۍ کې، په یوه پیښه کې طالبانو یو هېیوال تښتولی، او هغه یې د دوو ورځو لپاره بندي کړی و. نوموړی قرباني ادعا وکړه چې طالبانو د سزا په څیر، د هغه د ګوتي سر د یوه طالب ضد نوماند په ګته د رای ورکولو په خاطر، غوځ کړی. طالبانو د دغې پیښې مسئولیت رد کړ.[۱٤]

اختطاف

یواځې د ټاکنو په ورځ، یوناما د اختطاف شپږ پیښې ثبت کړې چې لږترلږه د ټاکنو د کمیسیون کارکونکو او څارونکو په شمول یې ۲۴ کسان اغیزمن کړي چې د یو ملکي کس د وژنې لامل شوی. د بلېلګې په ډول د اکتوبر په ۲۰مه نېټه د بغلان ولایت په برقه ولسوالۍ کې طالبانو د ۱۲ رایه ورکونکي اختطاف کړل (ټول سړي وو) چې په دې کې د ولسي جرګې د یو نوماند د کمپاین استازی هم شامل و، چې څو ورځې یې له ځان سره توقیف کړي وو. د اکتوبر په ۲۰ مه د هرات ولایت د ادرسکن په ولسوالۍ کې، طالبانو د ډېرو کلیو څخه ۴۵ مشران او نفوذ لرونکي اشخاص راټول کړي او په ټاکنو کې برخه اخیستلو لپاره د خلکو ویرولو په موخه په توقیف کې واچول او تښتول شوي کسان یی ګواښلی دي چې ګوتې به یی پرې کړې که رایه ورکړي، د اکتوبر په ۲۰ مه، د ماښام د رای ورکولو مرکزونو تر بندیدو وروسته یی خوشی کړل.

د ښوونځیو په شمول د ټاکنو په محلونو بریدونه

د رایې ورکونې نږدې ۵۰۰۰ مرکزونو څخه چې د رایی ورکوونکو د نوم لیکنې د مرکزونو په توګه یې هم کار کاوه، له ۵۰ سلنې څخه زیات یی په ښوونځیو کې جوړ شوی وو.[۱٥] د رایې ورکوونکو د نوم لیکنې دوره کې، د دولت پلوه عناصرو، په تیره بیا طالبانو، ښوونځي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون کارمندان چې رایه ورکوونکی راجستر کول د تعبیه شویو چاودیدونکي توکو او ځانمرګي بریدونو له لاری هدف ګرځولی، او په یوه بله پیښه کې، طالبانو د ښوونځي ودانۍ ته اور اچولی. هغه بریدونه چې د

[۱٤] د اکتوبر پر ۲۴، په طالبانو پورې تړلې د ټویټر حساب پوست چې پر دغه ټویټر پاڼه د لاسرسي وړ دی: https://twitter.com/QMY_Ahmadi/status/۱۰۵۵۱۰۹۷۲۹۷٤۲۱۸۸۵٤٤ په وروستي ځل د ۲۰۱۸ د اکتوبر په ۲۸ کتل شوی.

[۱٥] د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ۲۰۱۸ د ولسي جرګې ټولټاکنې وګورئ: د رایې ورکونې مرکزونو لیست، په http://www.iec.org.af/pdf/pclist-۲۰۱۸/allpc۱۳۹۷-en.pdf کې موجود دي) وروستی لاس رسی د ۲۸ اکتوبر ۲۰۱۸

ښوونکو پر وړاندې د  حملی د ګواښ سره مخ وو، په ځينو سيمو کې يی  له امله ښوونځي وتړل شول. هغه ښوونځی چې پرانيستي پاتې شوی وو، د حملی د لوړ خطر له امله د  شاګردانو د حاضری کچه کمه شوې، په ځانګړی ډول د نجونو ښوونځي په نا متناسب  ډول اغيزمنی شوي.

د ټاکنو په ورځ او د هغی ځخه يو څو ورځی وړاندی، دولتي ښوونځيی کومی چی د رايی اچونی مرکزونو په توګه استعماليدلی، د زده کونکو لپاره خپل ټولګی وتړل، ترڅود ښوونځيو په وړاندې د مستقيم بريدونو په پايله کی د ماشومانو د زيانمن کيدو خطر راکم کړی. په هرصورت، يوناما د ټاکنو په ورځ نږدې ۱۱۲ پيښې مستند کړي او هغه ښوونځي چی د رايې اچونې مرکزونو په توګه کارول شوي په مستقيم بريد يا په سيمه کې د بريدونو له امله اغيزمنی شوي دي. له دې جملې څخه د يوناما لومړني راپورونه ښيی چې لږترلږه ۲۳ ښوونځي تعميرونو ته زيان رسيدلی، چې کيدای شي ښوونې او روزنې ته د کوچنيانو لاسرسی اوږدې مودې  لپاره اغيزمن کړي. يوناما همدارنګه راپورونه ترلاسه کړي چی جوماتونه او کلينيکونه هم د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي امله اغيزمن شوي دي.

په ملکي ميشتو سيمو کې او هم له دې سيمو څخه په غير مستقيم ډول استعماليدونکي اسلحی کارولو له امله او ګڼ ميشتو ملکي ځايونو کی کورونو، هټۍ او ودانيو ته زيان رسيدلی. د اکتوبر په  ۲۰ مه د ميدان وردګ ولايت ، جلريز ولسوالۍ مرکز کې د طالبانو له خوا فير شوی راکټ د کلينيک په منځ کې ولګيد چې د دې ودانۍ او اوبو ذخيرې يې زيانمنه کړه. يوناما همدارنګه په لوی لاس ملکيتونوته او د ټاکنو اړوند موادو ته د زيان رسولو پيښی مستند کړي دي. د اکتوبر په  ۲۰ مه د هرات ولايت په پښتون زرغون ولسوالۍ کې د چيورشي په قريه کې طالبان يو شخصي کمپنۍ ته ورداخل شو چې هلته ټاکنيز مواد ذخيره شوي وو چې هغه مواد او تعمير يی وسوځولو.  د کندوز په ښار کې، د رايې ورکولو په مرکز کې د طالبانو په بريد کې چې په يوه ښوونځي کې موقعيت درلود شپږ ملکي تلفات يې رامنځ ته کړي، او د ټاکنو خپلواک کميسيون صندوقونه او د ټولټاکنو نور توکي سوځولي، چې په نتيجه کې يې ښوونځي، يوهټۍ او نږدې موټر هم سوځيدلي .

## په کندهار ولايت کې د ټاکنو ځنډيدل

په کندهار ولايت کی ټاکنی د يوی هفتی لپاره هغه وخت وځنډيدې، چی د ټاکنو ځخه دوه ورځی وړاندې يوه مهمه امنيتی پيښه رامنځته شوه. د اکتوبر په ۱۸مه، د کندهار ښار کې د ولايت په انګړ کې د والی يو تن باډی ګارډ د ناټو/غوڅ ملاتړ قوماندان د ليدنی پر مهال  ډزی پيل کړې. چی په نتيجه کی د کندهار پوليسو امنيه قوماندان او د ملي امنيت رئيس ووژل شول، همدارنګه په نوموړي حمله کې د يو خبريال په شمول څو نور امنيتی ځواکونه هم ووژل شول او والي يی شديد ټپي کړ. د دغه حملې په نتيجه کې په ولايت کی د احتمالي بې ثباتۍ ته په پام سره ټاکنی د اکتوبر تر۲۷ مه پورې وځنډيدلې.

په کندهار ولايت کې د ټاکنو ورځ  پرته له کومی غټی امنيتی پيښی تيره شوه چې يوناما د ملکی تلفاتو کوم راپور ندی ثبت کړی. افغان ملي امنيتي ځواکونو په کندهار ښار او يو شمير نور نږدې ولسواليو کې يو شمير چاوديدونکي توکي کشف او خنثي کړل. په ميانشين ولسوالي کې، د دولت ضد عناصرو د ملي پوليسو څو پوستو باندې بريدونه کړي چې د ولسوالۍ مرکز پورې اړه لري، البته ملکي تلفات نلري.

نورې هغه ستونزې چې په سياسي پروسو کې ګډون اغيزمنوي

په داسې حال کې چې د هیواد په ډیری برخو کې زیات تاو تریخوالي د هیواد اتباعو ورتیا زیاته اغیزمن کړي وه چې دوې دې په ټاکنو کې ګډون وکړي، د رایه ورکړې اړوند یو شمیر تخنیکي ، لوجیستکي او اداري ستونزې وې چې شاید دا د رایه ورکولو په مخ کې خنډ واقع شو. د ټول هیواد په زیاتو برخو کې رسنیو او ناظرینو راپور کړې چې رایه ورکونکي د رایه ورکولو مرکزونو د باندې په قطارونو کې په ساعتونو انتظار کړی چې دوې یې امنیتي ګواښ سره مخ کړي وو. د هیواد په کچه یوناما راپورونه تر لاسه کړي چې یو شمیر د رایه ورکولو مرکزونه د اوږد ځنډ وروسته پرانستل شول او ځینې یې همداسې تړلي پاتې شول. د ناظرینو ډلو او د نوماندانو استازو د ټاکنیزو موادو نه شتون او د رایه ورکولو په ځینې شمېر مراکزو کې د اړوند مامورینو نشتوالی په ګوته کړی. د ټاکنو خپلواک کمیسون پرسونل او مسئولین په زیاتو رایه ورکولو محلونو کې لیدل شوي چې هڅه یې کوله چې په کومو محلونو کې د بایو میټریک وسیلې موجود وې وکاروي، چې له امله یې دغه پروسې ډیر وخت اخستی. د رایه ورکونکو د درغلۍ د مخنیوي په موخه دغه ماشینونه هیواد ته په ځنډ راورسیدل چې د ټاکنو د ورځې د مخه یې د ټاکنو د خپلواک کمیسون مسئولین د دغه نوې ټیکنالوجي سره د اشنایی په اړه روزل محدود کړي وو. د رایه ورکونکو د لست د نیمګړتیا او یا نه شتون له امله رایه ورکونکو ته د درایه د ورکړې حق بل بدیل په اړه پوهاوی نه وو او یا په ټول هیواد کې په ورته ډول تر سره نه شو.

د اکتوبر په ۲۰ د پلان له مخې ۴۹۰۱ د رایه وکولو مرکزونه وو[١٦] چې پرانستل شوي وای خو له دې جملې ۲۶۱ نه وو پرانستل شوي. د اکتوبر په ۲۰ مه د ورځ په پایې کې د ټاکنو خپلواک کمیسون اعلان وکړه چې هغه د رایه وکولو مرکزونه چې د ورځې تر یوې بجې ندي پرانستل شوي وریسې له ورځ ته تمدید کړه چې بیا ځل پرانستل شي او کمیسون په ډاګه یې کړه چې ۴۰۱ د رایه وکړې مرکزونه به په ۲۱ اکتوبر پرانستل کیږي.[١٧] خو له دې سره په لویه کچه د مرکزونو په دویم ځل پرانستلو په اړه ډیر ابهام موجود و او د ټاکنو خپلواک کمیسون ادعا کوله چې د امنیتي ادارو د پریکړې په اساس په ځینې ځایونو کې د مرکزونو دویم ځل پرانستل ممکن نه وو. په ۲۱ اکتوبر د ۴۰۱ رایه ورکولو مرکزونو له جملې څخه یواځې ۲۰ سلنه یې د دې قابل وو چې پرانستل شي.

حقوقي تحلیل

یوناما ټینګار کوي چې په افغانستان کې د ټاکنو پروسه یو ملکي مسئولیت دی او په ټاکنو کې د ټولو اتباعود ګډون حق بنسټیز بشري حق دی چې د نړیوال بشري حقونو قانون تضمین کړی. د ملکي خلکو او ملکي ځایونو چې په دې کې د رایه ورکولو مرکزونه هم شامل دي پر وړاندې د قصدي تاو تریخوالی کړنې او بې توپیره بریدونه د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې په جدي ډول ممنوع دي او جنګي جرایم ګڼل کیږي.[١٨] د ملکي افغانانان وګړو په وړاندې په پراخه کچه او سستماتیک بریدونه شاید د بشریت ضد جرایم وپیژندل شي.[١٩] د دې ور اخوا داسې کړنې او د تاو تریخوالي ګواښ چې موخه یې د ملکي وګړو په

[١٦] دې شمېرو کې د کندهار ولایت د رایه ورکولو مرکزونه شامل ندي چرته چې ټاکنې ځنډول شوې وې.
[١٧] د ټاکنو د خپلواک کمیسون پریکړې نمبر ۸۹-۱۳۹۷ " د بایو مترک د ستونزو له امله د رایه ورکړې مرکزونو تړل" د ټاکنو د خپلواک کمیسون د خبرونو لومړي نمبر ۱ کې حواله ورکړل شوې " ۲۰۱۸ د ولسې جرګې ټاکنې، ۲۰ اکتوبر" ( ۲۲ اکتوبر ۲۰۱۸). زیات شمېر هغه د رایه مرکزونه چې د ټاکنو خپلواک کمیسون په دویم ځل په ۲۱ اکتوبر پرانستل له دې څخه ډیری یې په لودیځه سیمه ( هرات ، بادغیس او غور) او په مرکزي سیمه ( میدان وردک، پروان او کابل ) کې وو.
[١٨] د ای سي ار سي نړیوال بشر دوستانه عرفي قانون مطالعه، قاعده ۱۱ ، ۱۲ او ۱۵۶ او د جنایی محکمې د روم منشور ۸ ماده ۲ بند
[١٩] د روم منشور ، ۷ ماده ۱ بند

منځ بیره او دهشت خپرول وي د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې منع شوي.[20] یوناما تاکید کوي چې ښوونځي، جوماتونه[21] او کلینیکونه[22] د بشردوستانه قانون لاندې د ځانګړې مذهبي ، ټولنیز او بشري اهمیت له پلوه د ځانګړي خوندیتوب برخمن دي او کله چې دا د رایه ورکولو د مرکز په حیث وکارول شي نو خپل خوندیتوب د لاسه نه ورکوي.

د یوناما ماموریت یو ځل بیا د دولت ضد عناصرو ته وایی چې نړیوال بشر دوستانه قانونه هغه بریدونه منع کړي چې په تصادفي ډول د ملکي وګړو ژوند اخلي، ملکي وګړي ټپي کوي او ملکي ځایونو شیانو ته زیان اړوي او یا د مستقیم نظامي هدف ګرځولو په نتیجه کې د اټکل زیات زیان اوښتل کیږي.[23] په ملکي میشته سیمو کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او مستقیم فیر کیدونکي سستمونه په ملکي وګړو د اټکل وتلي او بې توپیره اغیز درلودلو له امله ځانګړي اندیښنې راولاړوي.هغه بریدونه چې په قصدي ډول ملکي خلک هدف ګرځوي او ملکي وګړو وژنه د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده چې کیدای شي جنګي جرم وپیژندل شي.[24] د دې سربیره په پراخه کچه سستماتیک بریدونه چې په هغه کې ملکي وګړي هدف ګرځول کیږي او ملکي خلک په قصدي ډول وژل کیږي کیدای شي چې د بشر ضد جرایم وګڼل شي.[25]

سپارښتنې

د جمهوري ریاست په ټاکنو کې چې راتلونکی کال پلان شوي، یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب د اطمنان په موخه لاندې سپارښتنې کوي.[26]

دولت ضد عناصر

د یوناما ماموریت ټینګار کوي چې د دولت ضد عناصرد ټاکنو اړوند سهولتو په وړاندې بریدونه سملاسي ودروي، او د ښوونځیو، روغتیایی مرکزونو او جوماتونو ته د بریدونو نه خوندیتوب ته ځانګړي پاملرنه وکړي.

دا ماموریت د دولت ضد وسلواله عناصرو باندې بیا غږ کوي چې د ټاکنیز پرسونل په وړاندې خپل بریدونه او ګواښونه په سملاسي ډول ودروي چې په دې کې مامورین، نظارت کونکي ټاکنیزو محلونو امنیتي مسئولین، د ټاکنیزو موادو انتقال او افغان وګړو چې د رایه ورکولو حق کاوري شامل دي.

---

[20] د جنیوا د کنوینسیون ۱ الحاقي پروتکول ۵۱ ماده ۲ بند او جنیوا کنوینسون ۲ الحاقي پروتوکول ۱۳ ماده ۲ بند

[21] د ای سي ار سي نړیوال بشر دوستانه عرفي قانون مطالعه، قاعده ۳۸

[22] د ای سي ار سي نړیوال بشر دوستانه عرفي قانون مطالعه، قاعده ۲۸

[23] د ۳مه مشترکه ماده کې صراحت، دویم الحاقي پروتکول، ۴، ۱۳ ماده، د لومړي الحاقي پروتوکول ۵۱ ماده، ۸۵(۳) (ب) په کورنۍ جګړه کې د تبطبیق وړ ندی، لیکن دنړیوال عرفي قانون له مخې منل شوی او په دې اړه نړیواله سرې میاشتې د نړیوال بشر دوستانه عرفي قانون مطالعه وګورئ، قاعده ۱، ۱۴، ۱۵، ۱۵۴)

[24] ۳مه مشترکه ماده کې ، دویم الحاقي پروتکول ، ماده ۴(۲)، د روم منشور، ماده ۸(۲) (سي) او ۸ (۲) (ای) او (ایې) د نړیواله سرې میاشتې د نړیوال بشر دوستانه عرفي قانون مطالعه ، قاعده ۱، ۸۹،۶، ۱۵۶.

[25] د بېلګې په ډول د بشریت ضد جرمونه د روم منشور په ۷ ماده کې کې تعریف شوي چې د نورو تر منځ د قتل ارتکاب، د یو ډلې څخه ځوک وژل، د یو مشخص ډلې ربړول ځورول، یا د ډیرو یوځای کول د سیاسي، توکمیز،ملت ، قوم، کلتور، مذهب، جنسیت او یا نورو تړاونو په اساس رایو ځای کول، یا د نورو عواملو له امله ، د ورته اوصافو نور غیر انساني چلند چې یو ځوک زیات کړاونو ستونزو سره مخ کړي، یا شدید جسماني ټپونه، رواني، صحي روغتیا ته صدمه ورسوي، کله چې دا په پراخه کچه او سستماتک بریدونه وي چې د ځانګړي ملکي نفوس په ضد تر سره شي او د بریدونو په اړه خبر هم وي.

[26] په غزني کې پارلماني ټاکنې چې د طالبانو او حکومت ترمنځ د ۱۰ -۱۵ اګست ۲۰۱۸ پورې د شدید جګړې له امله وځنډیدې، ګمان کیږي چې په ۲۰۱۹ کال کې ترسره شي.

د نړیوال بشر دوستانه قانون د مکلفیت سره متابعت کې ، د دولت ضد عناصر مکلف دي چې په هغه سیمه کې چې ملکي خلک یې تل کاروي ، د بې توپیره تعبیه شوي چاودیدونکو توکو کارول حتما ودروي او د فشار سره چاودیدونکي تعبیه شوي توکي په سملاسي ډول ودروي. د یوناما ماموریت د دولت ضد عناصرو غوښتنه کوي چې په ملکي سیمو باندې او هم د ملکي میشت سیمو څخه د هوان ، راکټ او نارنجک فیر کول ودروي او ټول هغه فعالیتونه ودروي چې د افغان ملکي وګړو په منځ کې ویره خپروي.

د دولت ضد عناصرو غوښتل کیږي چې خپلو غړو ته هدایت وکړي چې هغه خلکو ته د سزا ورکولو څخه ډډه وکړي چا چې په اوسنیو ټاکنو کې ګډون کړی او دوي ته یادونه کیږي چې د ټولو افغانانو حقونو ته درناوی وکړي چې په سیاسي پروسو کې په ازاده او د ویرې پرته ګډون وکړي.

د افغانستان دولت

یوناما د حکومت څخه غوښتنه کوي چې هغه بریدونه او بېلګي په بشپړ ډول مستند او پلټنه وکړي چې ملکي وګړي پکې هدف ګرځول شوي، په دې کې هغه ملکي ځایونو شامل دي لکه د رایه ورکولو مرکزونه او په دې اړه سملاسي ګامونه واخلي چې د مسئوله او ګرم ګڼل شویو سره محاسبه وشي.

د ټاکنو خپلواک کمیسون

یوناما د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته سپارښتنه کوي چې امنیتي، تخنیکي او اداري ګواښونو په اړه روښانه تجدید نظر وکړي کوم چې د پارلماني ټاکنو په مهال ورسره مخ شول، او که تر کومه حده مناسب وي د امنیتي چارواکو سره په شریکه دې وکړي چې اصلاح کونکي ګامونه واخلي ، د افغانانو خوندیتوب نه ډاډ تر لاسه کړي، او په راتلونکي جمهوري ریاست په مهال د افغانانو په سیاسي پروسه کې ګډون د حق د کاروني چاپیریال برابر شي. یوناما د ټاکنو د خپلواک کمیسون او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ نږدې همکارۍ سپارښتنه کوي چې امنیتي تدابیرو بیا کتنه وشي چې په ټوله ټاکنیزه پروسه کې په پرځای کیږي او د راتلونکي ټاکنو د تطبیق په د پاره د امنیت لارښود شي.

په لومړۍ صفحه تصویر : ایسوشیټیډ پریس/ رحمت ګل